مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شهسوار سنګروال ۲۰۱۸/۰۳/۲۵

نجیب الله د کودتا قرباني شو که د خپلو تېروتنو؟

پنځمه برخه

د بینن سیوان هڅې:

کله چې ګورباچف د سیاسي رغاوني کار چټک کړ، یو شمېر زړو کمونستانو د کې – ج – بي د یوشمېر غړو په ګډون په ۱۹۹۱ کال د اګست په ۱۹ نېټې، د یو شمېر سخت دریځو پر مټ د کودتا هڅه وکړه، چې ګورباچف له واک او ځواک نه کوښه کړي، خو کودتا له ماتې سره مخ شوه.
ګورباچف او د کابینې غړي د پخوا په پرتله لا دېته ژمن شول چې د واشنګټن له چارواکو سره غاړه یوسي. د دوی لومړی سر خوځونه دا وه چې په افغانستان کې به د نجیب الله حکومت سره مرسته نه کوي.
د بوش کابینې هم ژمنه وکړه چې له وسلوالو تنظیمونو سره به له پوځي مرستې لاس اخلي د ډسامبر په ۱۳ نېټې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جیمز بیکر او د شوروي د بهرنیو چارو وزیر بورئیس پانکین، په ګډه دا ژمنه وکړه چې له افغان حکومت او افغان یاغیانو سره به له ۱۹۹۲ کال د جنوري له ۲ دویمې نېټې نه وروسته د وسلو له استولو ډډه کوي.
نجیب الله لا دمخه په دې پوه شوی وه چې په ۱۹۹۱ کال یې «د یوه ځانګړي لیک په ترڅ کې شپاردنادزه ته کښلي وو، ما نه غوښتل چې جمهور رئیس شم، تاسو زه دېته وهڅولم او له ما سره مو د مرستې ژمنه وکړه. اوس ما او د افغانستان جمهوري نظام پرته له کوم برخلیک نه پرېږدي...»[1]
د شیبارشین په اند نجیب الله هغه څوک وو چې په شوروي یې بشپړ باور درلود: «دی حاضر وو چې د شوروي له ګټو دفاع وکړي.»[2]
شوروي چې دی په سپین میدان پرېښود او چایې خبره نه اورېده، که څه هم وروسته پېښو وښوده چې د ده ځنې څرګندونې د هغه مهال لپاره ډېرې مهمې وې. خو نوموړی له سیاسي نهیلۍ سره لاس او ګرېوان وو. ستیوکول، په تاجکستان کې د امریکا سفیر ایډ مند مک ویلیم له خولې کاږلې دې چې:
«ما واشنګټن ته د تلیفون په کرښه وویل، د کابل د سقوط په تړاو، د ډېر وخت نه وړاند وینه کېده او اوږده موده ځنډېدلی وو، اوس هغه وخت را رسېدلی دی. مانا دا چې تاسو به د کابل له غمیزو ډکې پېښې پخپلو سترګو وګورئ. نجیب الله دا هرڅه په خپلو سترګو لیدل چې ګام په ګام د ده وسلوال سیالان را نږدې کېږي، نو ځکه ده په ارګ کې خبریالانو ته دا خبره په ډاګه وکړه:
«افغانستان، متحده ایالات او متمدنه نړۍ یوه ګډه دنده لرو چې د بنسټ پالنې پر وړاندې ګډه مبارزه پیل کړو. که چېرې بنسټ پالنه په افغانستان کې ځای ونیسي... افغانستان به د نړۍ د مخدره موادو د قاچاق او ترهګرۍ په مرکز واوړي.[3]
په نجیب الله خپلو نږدې ملګرو د پرچم ډلې هم باور نه کاوه له هېواد نه بهر خپل نږدې دوست شوروي اتحاد ته هم دې نور د پام وړ نه وه، مسکو لادمخه احمدشاه مسعود سره ګډه ژبه پیدا کړې وه او د کابل ډله یې هم دېته ګومارلې وه چې د مسعود ملاتړ وکړي.
«نجیب الله راتلونکې لیدله خو هېڅوک یې هم نه وو چې خبره یې واوري... د هغې میاشتې په بهیر کې د ملګرو ملتو استازي بینن سیوان له نجیب الله سره په اوږدو خبرو بوخت و. سیوان هغه دېته هڅوه چې له کاره ګوښه شي او خپل ملاتړ د یوه سوله ییز انتقالي حکومت له جوړولو سره اعلان کاندي.
ښايي په پای کې د حکمتیار په څېر بنسټ پاله تجرید شي. نجیب الله دا خبره ومنله او د ملي تلویزیون له لارې د هغه وینا کې راغلې ول، هغه شېبه چې د ملګرو ملتو تر څارنې لاندې یوځای ناستې حکومت جوړ شي، له ولسمشرۍ به استعفا وکړي.»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ده یوه لویه سیاسي تېروتنه هم دا وه چې په دې څرګندونو یې خپل پوځي ملاتړ له لاسه ورکړ، ځکه چې د استعفا د کلمې په اورېدو ټول وسلوال ځواکونه ببر وحې شول، چې ګني د چا لپاره جنګېږي او د څه لپاره ځان وژني؟
په دولت کې دننه کړیو په سر کې شمالي ټلواله، د کارمل د ډلې په شمول لادمخه دېته کابو وه چې د نجیب سیاسي پښه وښوېږي نو دوی به یې ځای ناستي شي.
پدغه پړاو کې چې کومې سیاسي او پوځي تېروتنې مینځته راغلې لاملونه یې دا دي:
۱ – نجیب الله داسې کوم نړیوال او عملي تضمین چې د افغانستان سیاسي او پوځي واک او ځواک یې د اتلافي او یا د لنډمهاله حکومت تر جوړېدو پورې خوندي کړي وي تر لاسه نکړ.
۲ – د نجیب الله یوه بله تېروتنه دا وه چې کارمل ته یې اجازه ورکړه ببرته هېواد ته را ستون شي.
ده پدې سره یو شمېر خلقیان او یوشمېر پرچمیان له ځانه خوابدي کړل. په کابل کې شوروي سفیر، ای اوسترونیکو پراوډا ته (۹۳/۴/۱۳ وویل نجیب الله د ۱۹۹۲ کال په پیل کې خپلې ریښې پخپل لاس پرېکړې، نه یوازې مجاهدین د ده پر ضد وو، بلکې خپل نږدې ملګري د ده پر ضد شول. چې موخه یې کارمل او د کارمل ډله ټپله وه.
۳ – سره د دې چې نجیب پوهېده ولې بیا هم محمود بریالی، فرید مزدک او کاویاني ته یې ډېر واک ورکړی وه. ان تر دې چې نجیب جمعه اخک مزار ته استولی وه چې پېښې تر ګروت لاندې راولي ولې د یادو کسانو په سپارښتنه مؤمن په حیرتانو او دوستم په جوزجان کې د اخک واک وګواښه. که څه هم نجیب الله د مؤمن پر ځای ډګروال ستار بشرمل حیرتانو ته واستوه خو جنرال دوستم هغه بندي کړ.
نجیب الله بیا هم مؤمن کابل ته وغوښت، خو دوستم نه یوازې هغه پرېښود بلکې نجیب الله ته یې وویل چې جمعه اخک کابل ته وغواړي.
۴ – دا د کودتا لومړی ګواښ وه چې د نجیب الله حکومت یې ولړزوه. ده ته یو شمېر کسانو سلا او مشوره ورکړه چې هوایي ځواک وکاروي خو د کارمل ډلې هغه دېته نه پرېښوده.
د ملګرو ملتو استازي بینن سیوان دا پېښې له نږې څخه څارلې، نجیب الله یې هم له خپلو ملګرو وېروه او هم یې له تنظیمونو دا یې هغه ته یوه غوره لاره ګڼله چې د ملګرو ملتو پنځه فقریزه پلان ته غاړه کېږدي.
۵ – د ملګرو ملتو سرمنشي پیر یزدیکویار په ۱۹۹۱ کال د مارچ پر ۲۱ نېټې په افغانستان کې د سولې لپاره د یوه بېړې حکومت د جوړولو وړاندیز وکړ.
چې دغه وړاندیز بیا په «پنځه فقرییزه» پلان نامتو شو او مهم ټکي یې دا وو.
۱-د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا، سیاسي خپلواکي، ناپېلیتوب او د اسلامي هویت ساتل او په ټوله کې د افغانستان د خلکو د ارادې تمثیل.
۲-له هر ډول بهرنۍ لاسوهنې پرته د یوه خپلواک دولت جوړول د یوه پیا وړې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز نظام بنسټ.
۳-دغه نظام او حکومت باید پراخ بنسټه وي. خو لومړی یوې لنډمهالې انتقالي دورې ته اړتیا ده چې د افغانانو د خپل مینځي خبرو په پایله کې به مینځ ته راځي.
٤-په افغانستان کې د جګړې پر دواړو ښکېلو غاړو د وسلو درولو بندیز او په دې تړاو یوه ګډه موافقه.
٥-د افغانستان د کډوالو مالي ستونزو ته لاس رسی، هېواد ته په خپله خوښه ستنېدل او د افغانستان د اقتصادي او ټولنیزو چارو بیا رغاونه.
نجیب الله چې کورنۍ او بهرنۍ ستونزې پخپلو سترګو لیدلې، د دې پرېکړې هرکلی وکړ. ولې د پاکستان حکومت په ښکاره د ملګرو ملتو د پرېکړو درناوی کاوه ولې په پټه یې تنظیمي مشرانو په سر کې بنسټپالو ته سپارښتنه کوله چې د نجیب حکومت په زور چپه کړي.
کومې سیاسي پوځي او اقتصادي ستونزې چې نجیب الله د حکومت په چارو کې لرلې، دا رنګه ستونزې تنظیمي چارواکو نه درلودې، د تنظیم هر چارواکي پیسې هم درلودې او وسلې هم. له دې سربېره د بهرنیو هېوادو له مرستو نه دومره برخمن ول چې هم پاکستان شتمن شو او هم د تنظیمونو مشران، نو ځکه خو دوی دېته ژمن ول چې د نجیب الله حکومت په زور چپه کوي. حکمتیار پدې تړاو داسې کښلي دي:
«بینن سیوان نجیب په دې قانع کړو چې مجاهدین اتلافي حکومت نه مني باید په غیر اتلافي موقت حکومت توافق وشي، زموږ طرحه دا وه:
۱-د نجیب د خپلې استعفی له اعلان سره توافق...
۲-د غیر متنازع فیها شخصیتونو څخه د یو موقت حکومت جوړ شي.
۳-له پوځ او پولیس نه پرته دې ټول مسلح قطعات منحل شي.
٤-د موقت حکومت په دوران کې دې د یوه مستقل انتخاباتي کمسیون په ذریعه په شپږو میاشتو کې انتخابات ترسره شي.»[4]

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بینن سیوان، نجیب الله سره ژمنه کړي وه چې دی به روغ رمټ له افغانستان نه باسي، هغسې هم نوموړي ۴۳ ورځې دمخه خپله مېرمن او لوڼې هندوستان ته استولې وې. خو بنین سیوان د دې وس ونه موند چې دی له ځان سره بهر ته بوځي. (ریښتې کیسه، د نجیب په تړاو کولی شئ وروسته ولولئ)
دا چې د نجیب الله د تلو مخه ډب شوه څو لاملونه یې د پام وړ دي:
۱ـد کارمل ډله چې د نجیب الله سره په ښکاره ډېره نږدې وه، هغوی هم د دې لپاره چې د هغه له کړو وړو خبر شي، نو ځکه یې د هغه د تلو مخه ونیوه.
۲ـله نجیب الله سره د کې – جي – بي ډېر پټ رازونه وو، نو ځکه شوروي چارواکو، د کارمل ډلې ته سپارښتنه کړې وه چې د نجیب د تښتېدو مخه ونیسي.
۳ـخپله نجیب الله هم په دې پوهېده چې، که چېرې ونه وځي د پېښو قرباني به شي... نو ځکه نوموړی له هوایي ډګره بېرته را وګرځول شو او بیا یې د ملګرو ملتو په دفتر کې پناه واخسته.
بینن سیوان پخپلو ژمنو ونه درېد یا یې په وسه پوره نشوه او یا د دې لامل له یوې خوا دا وو چې دی د نواز شریف یاني د پاکستان د صدراعظم تر اغېز لاندې و، او له بلې خوا د سیمې د هېوادو د چارواکو او استخباراتي کړیو هاندې هڅې وې چې غوښتل یې د ملګرو ملتو پنځه فقریزه پلان شنډ کړي.
«په پېښور کې د آی اس آی د مشر دراني او شهزاده ترکي په مشرۍ د یوه انتقالي حکومت د جوړولو لپاره خبرې د پټو ورونو شا ته رواني وې. سعودي علما وو ژر ورودانګل چې دیني فتوا یې ورکړي.
پټر تامسن او بینن سیوان هڅه کوله شهزاده ترکي پدې قانع کاندي چې د یوه پراخ بنسټه سیاسي حل ملاتړ وکړي خو د ترکي چلن سوړ و.»[5]
د نجیب الله چې ډېره ډډه یې د دولتي امنیت په وزیر یعقوبي کوله هغه هم د مزدک د ورور جنرال یار محمد له خوا ووژل شو.د اسحق توخي کور هم کلابند شوی وه. هغه وو چې نجیب، توخي د نجیب ورور احمدزی، د توخي دکورنۍ او د نجیب یاور په هوایي ډګر کې د دوستم د ملېشاو له خوا چې جنرال عظیمي په سپارښتنه، یوه ورځ دمخه د کابل هوایي ډګر ته را رسول شوي ول ونیول شول چې له بابته یې د ملګرو ملتو په دفتر کې پناه واخسته او د بینن سیوان خبرې هم ماتې سره مخ شوې.
د نجیب الله د تښتې کیسه په (افغا نستان بربا دي نومې کتاب کې **in Afghanistan Doomed**)په بشپړه توګه راغلې ده، چې لنډیزیې داسې دی: ؛ د ملګرو ملتو یو لوړپوړي چارواکي فلیپ کوروین **Corwin Philip** چې بینانسیوان سره یو ځای، د سولې په هلوځلو او په سوله ییزه توګه یوې بې پرې شورا ته د ډاکتر نجیب څخه د واک د لېږد په چارو کې شامل و. د **Doomed in Afghanistan** افغانستان بربادي نومي کتاب کې، چې لیکوال له بینانسیوان او له نورو ښکېلو کسانو سره لیدلي دي، په دې لړ کې د رباني له خولې کاږلې چې هغه ماته وویل: امنیتي ځواکونه او ملي پوځ باید منحل شي. لیکوال، په کابل کې له نجیب الله سره ګوري، دی وایي (فلیپ ۲۰۰۹ کې مړ شو) د شپې ۱:۳۰ بجې د ملګرو ملتو موټر راغی، زه یې لومړی د ملګرو ملتو دفترته بوتلم، بیا د نجیب کور ته لاړو. نجیب سره یې ورور، یو ساتوونکی، جنرال توخي، چې ټول ۹ تنه کېدل، منتظر وو. جنرال توخي او «اوني» د نجیب په استعفا لیک کارکاوه... اوني راغی، وېل هوایي ډګر ته د تګ وخت دی. د شپې ۱:۴۵ بجې وې په درې موټروکې وخوځېدو. زه د «ډن کوریک» سره کېناستم چې دی د ملګرو ملتو ایرلینډي اداري مامور دی. د نجیب ورور او دی زموږ شا ته ناست دي. دویم موټر «اوني» چلوه او جګړن نولن په مخکني سیټ کې ناست دی... دریم موټر تورن پیټر بایر چې چې د ملګرو ملتو یو ډنمارکي پوځي دی، له ده سره د توخي کورنۍ ناسته ده. د شپې د نوم په ورکولو له څو پوستو تېر شوو.
په دغه وخت بینین سوان هوایي ډګرته رسېدلی دی. موږ پوه شو چې له نوموړي سره ۱۵ کسیزه شورا نشته د سولې پلان ناکام شوی دی، کله چې موږ اخري تم ځایته ورسیدو نور زموږ د شپې نوم نه چلیده کوریک ډېر کوښښ وکړ چې هغوئ قانع کړي، خو وې نه منله موږ ته یې وویل: د دوئي یونیفورم بل ډول دی... (نولن) او (اوني) هم ورغللو د نجیب سرتېرو هم ورسره پنځه دقیقې ناندرۍ ووهلې... پدغه کې (اوني) له بینین سیوان سره وغږېد او هغه په تلیفون کې ورته وویلې: ماته هم اجازه نه راکوي، چې له الوتکې ښکته شم. د دوستم ملیشاوو هوایي ډګر نیولی دی. د وطن ګوند اجرائي کمېټې، د نجیب مخالف د کارمل پلوي ډلې د ملګرو ملتو پلان افشا کړیدی. موږ ته ښکاره شوه، چې د دوستم ملیشاوو چاته په ۲٤ ساعتو کې د تلو او راتلو اجازه نه ورکوله.
اوني نجیب ته وویل:
که تاسو غواړئ کولی شی کور ته لاړ شئ، هغه ورته وویل: همدغه څوک چې ما نه پرېږدي هند ته لاړ شم، ښایي ما ووژني... زما لپاره خوندي ځای، د ملګرو ملتو دفتر دي پدغه وخت کې بنین سیوان، اوني ته دتلیفون په لیکه وویل: موږ د الوتکې دروازه بنده کړېده، چاته اجازه نه ورکوو، چې را ننوځي... د شپې دوه بجې موږ ټول بېرته راوګرځیدو او د ملګرو ملتو دفتر ته لاړو.
د اپریل په ۱٤مه د ورځې په ۲ بجو د دوستم ملیشاوې د الوتکو په وسیله هوایي ډګر ته راوړل شوي وو. هغه وخت نجیب د دفاع عالي شورا جوړه کړې وه. دغې بېړنۍ غونډې ته عظیمي او نورو پرچمیانو وویل: دغه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځواکونه، د حکمتیار وسله والو له وېرې کابل ته راغلي دي... دوئ له نجیب نه دا هم وغوښتل، چې په رادیو تلویزیون کې اعلان وکړي، چې په ۱۹۷۹ کال چې شوروي پوځونو په افغانستان برید وکړ، زه له ملته ښښنه غواړم...
موږ د شپې په ۲ بجې د ملګرو ملتو دفتر ورسیدو، نجیب اسلام آباد ته تلیفون وکړ، چې بنین سیوان کابل ته راشي، که څه هم سیوان، اوني ته په هغه شپه، ۲:٤٥ بجو ووېل: ازبکان یې له الوتکې راتاو شویدي، اجازه نه ورکوي، چې والوځي... پنځه دقیقې وروسته یې موږ ته ډاډ راکړ، چې درې جنرالان، چې عظیمي او دلاور پېژني راغلي دي... هغه وو چې دشپې درې بجې، ده او د ده مرستیال اندرو ګیلمور ته د الوتکې د وتو اجازه ورکړه.
نجیب بیا ډیلي ته زنګ وواهه، چې ده ته یې د وتلو اجازه ورنکړ شوه... پدغه شپه یعقوبي سره هم وغږید او ټوله کیسه یې ورته تېره کړه... کله چې بیا اړیکه ونیوله، ویلې وژل شوي دی...
په پاي کې لیکوال وایي، زه له بنین سیوان، نجیب او توخي سره ناست وم، چې نجیب ورته په ګوډه ماته انګلیسي ژبې وویل: دایې لا پیل دی).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ